## د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د معلوماتي ټکنالوژۍ او د افغانستان د ادراینو سیستم آمریتونو لپاره د یو پي اس چمتو او نصبولو پروژې تړون د غزنین باستان لوژستیکي خدماتو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري څو د معلوماتي ټکنالوژۍ او د افغانستان د ادراینو سیستم آمریتونو لپاره د یو پي اس چمتو او نصبولو پروژې تړون د د غزنین باستان لوژستیکي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د D-39351 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه يې د کابل ولایت، 5 ناحیه خوشحال خان مینه قلعه وزیر کې دی د تړون ټولیزه بیه 2,028,750 دوه میلیونه اته ویشت زره اوه سوه او پنځوس افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر پنځو (۵) کاري ورځو پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او وړپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.